شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

(٤) صفحه

شماره مسلسل ٩٨٥ سال هژدهم شماره ٦٩، سه شنبه ٢١ سنبله ١٣٧٤ هـ، ش ١٧ ربیع الثانی ١٤١٦ هـ ق ١٢ سپتمبر ١٩٩٥ م

قیمت (٢٠٠) افغانی (٢ روپیه)

برادر "هلال" ازسفیر پاکستان درکابل عیادت به عمل آورد

اسلام اباد ـ ٢٠ سنبله :

برادر انجنیر قطب الدین "هلال" رئیس کمیسیون سیاسی حزب اسلامی افغانستان از قاضي همايون سفير كبير پاکستان در كابل وهيئت ديپلوماتيك معيتي وي كه در حمله بر سفارت پاکستان مقیم کابل مجروح گردیده بودند ،عیادت بعمل آورد.

یك مقام مسؤل ریاست سیاسي حزب به خبرنگارشهادت اظهارداشت انجنیر هلال طي عيادت از سفير پاكستان ،ضمن اظهار تاسف برواقعهٔ پیش آمده ، تأثرات عميق برادر حكمتيار اميرحزب اسلامي افغانستان را راجع به سانحهٔ مذكورابراز نمودند.

منبع مذكورگفت : درمقابل قاضي همايون سفيرپاكستان در كابل از ابراز تاثرات وي اظهارامتنان نموده ، اطمينان دادند كه نه تنها ... بلكه هر فرد پاكستان حادثهٔ مذكور را به ملت غيور افغان مربوط ندانسته آنرا عمل طرح شده حلقات معلو... ـال مي دانند.

خبرنگار شهادت مي نگارد ، هنگام عيادت سفير پاكستان توسط انجنير هلال در شفاخانه C.M.H راولپندي داكتر غيرت بهير نيز با ايشان همراه بود.

«انترکانتیننتل هوتل » له ناراضیانو تش شو

يوي باوري منبع شهادت ته وويل چي دكابل انتركانتيننتل هوتل په دي ورځوكي دحزب اسلامي له ناراضيانونه پومخ تش شوي . منبع ددي دوه سببونه ښيي ، يوداچي په كابل كي دجګړي دويري زياتوالي دوي په تنګ كړل اويل داچي دسروبي په اشغالت كي ني دخپل تاثيراونفوذ په برخه كي چي احمدشاه مسعود ته يي اطمينان وركړي و، هغه دروغ راووت اواوس نه له مسعودسره دمخامخ كيدوجرئت كولاي شي اونه ورته هيڅ مخ لري .

خبريال وايي چي ناراضيانو مسعود ته وعده وركړي وه چي دوي په سروبي اولغمان كي پراخ نفوذ لري اودجګړي دپيل په صورت كي به ني په اسانۍ ونيسي، خواوس چي نظارشوري څومره زور وهي ، هغومره له تاوان سره مخامخ كيږي اويه دي وجه «مسعود» ورته شديداً په غوسه دي .

دحزب اسلامی افغانستان اجرائیه شوری :

دربانی په استعفی ، دانتقالی اداری په جوړیدواو دانتخاباتو په تضمین ټینګاروکړ

دحزب اسلامي افغانستان اجرائيه شوري په هغه غونډه كي چي دجمعي په ورځ په نصرت مينه كي دوررو ... وحكمتيار» په مشري وشوه اوڅلورساعته روانه وه ، په دي ټينګاروكړ چي بايد درباني اداره په هرصورت كي منحله شي ،درباني» استعفي وكړي ، دسالمونې طرفه مسلمانو افرادو يوه انتقالي اداره جوړه شي او دازادو، انتخاباتوترسره كيدو داصل رعايت تضمين شي .

داجرائيه شوري دفترشهادت ته وويل چي حزب اسلامي هيواد ته دسولي دراتلو ،هيوادوڅلوريزني اومنتخب اسلامي حكومت دجوړيدو په لاركي له هرڅه سره ... مرستي ته چمتودي اوله هيڅ راز سربښندني نشي، اوپه دي كي دټولو قوتونو اراده په سرونه غړوي .

تومووي دفتر زياته كړه چي ترڅو دبي طرفو مسلمانوافرادوانتقالي اداره جوړه ... اوخوښه دخيله نشي، جګړه پاي ته نه رسيږي . دفتر زياتوي چي ددايمي سولي، پايدارامن اوقانوني اسلامي حكومت دجوړيدو لپاره بايد حتماً ددي اصل رعايتول تضمين شي چي دملت رائي ته به رجوع كيږي اودملت له خوښي اوانتخاب (٤)مخ

سیاف ، مسعود ته وویل :

زه می په افرادو باورنه لرم ، زما مرکزونو ته خپل قوتونه ولیږه

مسعود : ستامسئولیت یواځې ماته په اطلاع راکولونه اداکیږی

كابل – دوږي ١٩ مه :

يوي باوري منبع شهادت ته وويل چي په كابل كي ديوي لوئي جګړي ويره ورځ په ورځ زياتيږي اودائتلافي اداري مسئولين دنوي وضعي مقابلي ته دير وارخطادي .

... جګړي قطعاتومورال لويدلي اودبوي پراخي جګړي په صورت كي دمقاومت چانسونه زيات نه ليدل كيږي .

منبع زياتوي چي دهندي ويري په وجه سياف ، احمدشاه مسعود ته وويل چي زه مي په خپلوقوماندانانو اوافرادو باورنه لرم اوشكمن يم چي يوي زياتي برخي ني له مخالفينو سره تماس نيولي دي ، له هندي امله لا سرله اوسه درته وايم چي زما مركزونوته خپل قوتونه راوليږه، كنه بيابه دپيښيدوعواقبومسئوليت زماپه غاړه نه وي .

منبع وائي چي سياف داهكي هم احمدشاه مسعود ته زيات كړچي ماپه وخت له موضوع خبركړي چي بيا دماني په صورت كي دهرات دپيښي په څيرچي استادرباني اواسمعيل خان دي دهرڅه مسئول وګڼل، ماملامت نكړي . (٤)مخ

دملي محاذمشر سیداحمد ا گیلاني

په هیواد کی نوی وضعه راروانه ده ، بایدخانونه ورته تیارکړو

دربانی اداره به پاچه کیږی اویابه داقتدارانتقال ته تن ورکوی

اسلام آباد - دوږي ١٨ مه :

دافغانستان دملي اسلامي محاذ مشر پيرسيداحمدګيلاني وويل چي بايد دهيواد نوي پوځي انكشافات په غورمطالعه شي اوددي انكشافاتو په نتيجه كي چي كومه نوي وضعه راروانه ده ،بايد دهغي لپاره ځانونه تيار كړو .

دشهادت خبريال وائي چي داتكي پيره ګيلاني» په هغي ميلمستياكي څرګندكړچي دومه ورځ ني په اسلام آباد كي دهماهنګي شوري مسئولينو،داكتر غيرت «بهير» ، حاجي منګل حسين ، قوماندان ديدار، داكترطالب او مولوي عبدالباقي «تركستاني» ته كړي وه .

پيره ګيلاني » څرګنده كړه چي نوي حالات داښيي چي يابه د « رباني » داداري عقل سرته ورځي اوپه له دي چي نوري ويني توئي شي ،دي ته به تن وركوي چي داقتدارانتقال صورت ونيسي (٤)مخ

دهغو په خلاف به وسله وال پاڅون لاس پوري كړي .

درصورت حملهٔ منظم طالبان برپغمان :

امکانات مقاومت بین نیروهای سیاف کمتردیده میشود

پغمان – ١٨ سنبله :

مردم شريف پغمان واكثريت افراد جنګي تنظيم اتحاد ازسياست هاي سياف وسران ديګر ادارهٔ ائتلافي بيزار بوده وامكانات مقاومت شديد افراد سياف درمقابل حملات طالبان كمترديده مي شود.

يك منبع باخبردرتنظيم اتحاد به خبرنګارشهادت ګفت : بعداز سقوط هرات كه ٥٠٠ تن از افراد مؤثر جنګي تنظيم سياف نيز درآنجا مفقود الاثر اند حالا خطوط دفاعي پغمان درمقابل طالبان از افراد مؤثر جنګي ضعيف به نظرمي رسد .

ګزارش مي افزايد فعلاً حاجي شيرعلم تنها قوماندانی است كه يكعده افراد جنګي دراختيار دارد اما ازيكسو افرادمذكور روحيهٔ جنګ درمقابل طالبان را ندارد وازجانب ديګر از ٤ يا ٥ ماه بدينسو معاشات آنها اجرا نګرديده وبه اين دليل هم دلچسپي آنها بادفاع ازپغمان كمتراست .

همچنان مردم شريف پغمان از سياست هاي فاشيستي و تعصب آلود ګردانندګان اصلي ادارهٔ كابل (شوراي نظار) اظهاربيزاري مي نمايند وازاعمال جنګ جويانه آنهاوشخص استاد سياف به تنګ آمده اند. كه نمي خواهند پغمان باردیګر ميدان جنګ براي دفاع ازادارهٔ كابل وسران آن باشد.

دافغانانو دبیبي درالویدو په باب په چوك یادګارکی دصرافانو څرګندونې :

دافغانیو د بیی درالویدو وجه روان جنګونه اودربانی اداره ده .

محمدهمايون

څومره چی دکابل حکومت ضعیفیږی همدومره افغانی خپل ارزښت ترلاسه کوی

جنت ګل

دافغانیو دارزښت درالویدو علت دزیاتو افغانیو چاپ کیدل اوتجارت دی

فضل محمد

دول دول آوازی اوربوتونه دافغانیو ارزښت کموی

...

دشهادت خبريال دافغانيو دنرخ په برخه كي دپيښور له چوك يادګارڅخه داسي راپور راكوي : (محمدهمايون چي اصلاً ديكتنا اوسيدونكي دي دشهادت خبريال

به تعقیب تصفیه منطقهٔ تیزین :

حملهٔ دیگر نیروهای ادارهٔ کابل برنواحی این منطقه به عقب زده شد

سروبي – ٢٠ سنبله :

حملهٔ تعرضي نيروهاي ادارهٔ كابل برمناطق تيزين به عقب زده شد .

به تعقيب پيروزي هاي چشمګيرمجاهدين دلير حزب اسلامي افغانستان كه منطقهٔ تيزين ونواحي آنرا ازلوث افراد ادارهٔ كابل پاكسازي نمودندوشمارزياد افراد دشمن رااسير، كشته ومجروح ساختند نيروهاي اداره كابل باجمع آوري افراد تازه دم صبح امروز باردیګر برمناطق نواحي تيزين به عمليات تعرضي دست زدند كه درنتيجه مجاهدين حزب اسلامي ازمواضع خود سرسختانه دفاع نموده جنګ شديد رخ داد .

درګزارش آمده است نبرد تاحوالي ظهرادامه داشت وبعداً نيروهاي دشمن به عقب زده شد وتعدادي ازافراد آنهاكشته ويازخمي ګرديدند واكنون درمنطقه آرامي حكم فرماست ،ومجاهدين حزب اسلامي افغانستان براوضاع مسلط ميباشند .

ګزارش مي افزايد كه درين حمله دشمن به مجاهدين كدام آسيبي نرسيده است.

دنظارشوری (٦) جاسوسان ونیول شول

دغزنی محکمه به هغوی ته دیر ژردخپل جرم سزاورکړی

دوږي ٢٠ :

له غزني ولايت څخه يوي باوري منبع دشهادت خبريال ته وويل چي دتيري شني په ورځ دغزني ولايت امنيتي مقاماتو دنظارشورا شپږپلويان په داسي حال كي ونيول چي دوي خيلي په مليونونو افغاني ديوانديوال صراف څخه دخواجه عمري علاقداري ته نقلولي .

منبع وويل كله چي نوموړي جاسوسان قوماندانانو ته ورسول شول دوي پدي اعتراف وكړچي دنظارشورا له مشرمسعود څخه يي قوماندانه اخستي ده . منبع دقوماندانانو ديومسئول مقام له خولي شهادت ته وويل چي دنوموړو جاسوسانو څخه تحقيق روان دي اودغزني محكمه به ديرژرهغوي ته دخپل جرم سزاوركړي .

مولوي عطاءالله له شهادت سره په مرکه کی :

که ددولت دحملی هدف په ختیزوولایتونوکی لاسوهنه وی دننګرهارشورا به یی کلکه مقابله وکړی

د " ننګرهار" دلويي جارنوالي رئيس اودولايت دجهادي شوري منشي مولوي عطاءالله "لودين " له شهادت سره په مركه كي وويل :

بسم الله الرحمن الرحيم

پوښتنه : دهيواد دروانې وضعي په باب دننګرهار ولايت دجهادي شوري دريځ څه دی؟

ځواب : دننګرهار جهادي شوري چي دتنظيمونو په متناسبه نماينده ګۍ تشكيل شوی تل يې ددی كښمكښونو په اوږدو كښي د صلحی اوبی طرفی موقف نيولی دی اوكوشش يې كړی چې ملك كښی صلحه ، اخوت ، يووالی اودهرچا دحقوقو برابری وی ، دیواسلامی نظام دقيام هلی ځلی يې كړی او دايی ارزو اوغوښتنه ده . د سروبی دحملی په رابطه (٤)مخ

دلغمان والی استاد عبدالله جان "واحدی" اوملګرویی له ورور حکمتیارسره وکتل

جلال اباد د وږي ١٩

دلغمان والي اودجهادي شورا رئيس مجاهد ورور عبدالله واحدي اوورسره ملګروپي دحزب اسلامي له امير ورور حكمتيار سره دننګرهار په لومړي قيرقول اردو كي وليدل.

له جلال اباد څخه دشهادت خبريال ريپوټ وركوي ، پدي ليدنه كي چي دشهيد جنرال ناصردجبهي آمر عبدالشكور هم ګډون ... درلوده له وروروحكمتيار سره دهيواد پر روانې وضعي اووروستيو جريانانو خبري (٤)مخ

لومړی جزابه " ربانی " سیاف اوقاضی امین ته ورکوم

مسعود

له كابل نه يوه باوري منبع ريپوټ راكوي چي احمدشاه مسعود ترشديد رواني فشارلاندي دي اوپه دي حالت كي ترټولو زيات خپلو ديرو ملګروباني ، سياف اوقاضي امين ته په غوسه دي .

كه څه هم مسعود مخامخ له سياف سره احتياط كوي، اوهغه ته داسي احساس وركوي چي ګني دي يواځي درباني له بي كفايتي په تنګ دي اودسياف له كارنه راضي دي خوپه غياب كي وائي چي رباني اوسياف اوپه دي وروستيو كي قاضي امين «وقاد» ده ته ديرمشكلات راولاړكړي ، خوده دهاريه سپكولو كي ني هيڅ رازنقش نه دي ترسره كړي .

«مسعود » دا ډيره نه واضح كوي چي هغه مشكلات چي دي بناغليو ورارولي كوم دي، خو په نخوصاً ومجلسونوكي ني داخبره كړي چي كه ده حكمتيار » له جنجال نه خلاص شو لومړي جزا به رباني ، سياف اوقاضي امين ته وركوي .

زیری زیری زیری

دحزب اسلامي افغانستان د ارشاد او فرهنګ رياست پتيلي ده چي په راتلونكيونږدي وختونو كي هـره ورځ دشهادت ورځپاڼه به پرله پسي توګه خپره كړي، دشهادت اداره ددرنو لوستونكيو وړانديزونو،ليكنو،انتقـاداتو، نظرياتو اواعلانونوته سترګي په لار ده . (اداره)

زمونږاوطالبانو ترمنځ رسمي توافق نه ؤ ، خونه موغوښتل چې هغوی دائتلافي اداری په وړاندی ماتی وخوری

دوهمه برخه

ورونو! دحزب اسلامي كارت سره چې څوك په شهادت رسيدلي يا په زندان كي په اعدام محكوم شوي يا په سنګرونوكي په قتل رسيدلي ديونيم لك ته ئي شميرزيات دي، څوك چې په دغه موده كي جيلونوته تلي اويه كلونو، كلونوهلته په جيل كي پاته شوي، شكنجه شوي تعذيب شوي، نوكان ئي ورته ايستل شوي په اورداغل شوي، برقي صندقونوكي شكنجه شوي، دهغوشمير اتيازره شااوخواكي دي . موږ داټولي قرباني داسلام له پاره وركړي موږېل څه ته غواړو اسلامي حكومت غواړو . كه اسلامي حكومت په كابل كي جوړشو زموږ ارمان ترسره شوي خو په خداي (ج) مي دي قسم وي چې اسلامي حكومت جوړنه وي ترڅوژوندي يم خپل جهادته به ادامه وركوم .

(دحضارو دتكبير نعري)

په دي تعهد كي زه يواځي نه يم دحزب اسلامي داسربندونكي په مليونهاووغړي همداتعهد لري، اسلامي حكومت به په كابل كي جوړؤ راځي همدغه جومات كي موږاوتاسي يوځل بيا تعهد وكړو چې له خداي (ج) سره موكلك تعهد دي چې دخپل سراو ويني په قيمت به په كابل كي اسلامي حكومت جوړؤ .

ورونو اموږ دهمدي له پاره دسولي هرهيئت ته مثبت ځواب وركړي دفتحي په حالت كي وو، رژيم به دنسكوريدوپه حالت كي ؤ، وضعيت به يي ډير پريشان ؤ، هغوي به غوښتل چې د سولي هيئت دي راشي موږيه ورسره توافق وكړ، دهغوي شرايط به مووملل، اختيار به موروته وركړ بالاخره په هغوي دوكه وكړه له خپلوتعهداتونه په شاشول او بيا به جګړه پيل شوه .

ورونو! متأسفانه دغه د سولي هيئتونه چې موږورته ډيرعزت وركړي ، ستاسويه په يادوي چې ځينوځان ته دتحريك اسلامي "منسوبين ويل اوموږ دهغوي ډيراحترام كولو ويل ئي موږ مصلحين يو، موږ وويل الله پاك دي تاسي ته توفيق دركړي په دغه نصرت مينه كي به هم لګياوو دحزب په خلاف به بي غلط اودرواغ تبليغات كول موږ ويل چې خير ،عبوري حكومت باندي بحث روان ؤ توموږ دګڼ شمير دغومصلحينو نومونه وركړي چې دغه دي راشي شديداً دحزب پرخلاف لګيا هم وو، تبليغات ئي هم كولو ولي متأسفانه دالله (ج) سنت همدادي چې خلك نه پريږدي ، خامخا ئي څرګندوي، دهغوي مافي الضميربايد خامخا بربنډشي، الله (ج) خلك نه پريږدي چې نه اوبندي سره خلط وي اوامتحان آخري حدته رسوي، دچا دضمير په پوګوټه كي هم چې كوم خبث پټ وي دابايد راڅرګند شي. همداسي وشول اوس هغه مصلحين ولاړل له كابل ته ئي قطعات وغوښتل اوهمدغو مصلحينوورته ويل چې سروبي درته نيسو ، دجلال آباد ،كنړاولغمان كارهم زموږيه اوپه ، نبي ،ډيري پيسي يې هم ورته وركړي ، هيچاداګمان نه كولو چې دامصلحين دي . بالاخره دغسي شي اوغه دي بالاخره دمسعود رژيم سره په دغسي وخت كي يوځاي شي چې هغه نوردنسكوريدو اوختميدوپه حالت كي دي، په يوه وړانه ، ويجاړه اودغرقيدوپه حالت كي كشتي كي له هغه سره سپاره شول، څومره ډير عقلوكسانوفيصله ، مانه چې كله ،اخيرخلكوراورساو چې داولاړل كابل ته ، كابل ورته ويلي چې بايه راځي وظايف به اخلي په جنګ كي شركت كوي بايه بيل تنظيم جوړوي باكمكونه دربانديقطع دي يوانتخاب كړي هغوي لاړل ويي ويل چې تياريوحزب هم جوړكړو راځئ وربانديبحث كوو، قطعات هم درته جوړؤ په جنګ كي هم درسره برخه اخلو .

متأسفانه هغوي لاړل په جنګ كي ئي برخه واخيسته، په دغسي وخت كي چې سابله ورځ به داحكومت ختميږي .

متأسفانه داخلك هم ولاړل ، نه شو چې لاړل اوموږ ډير خوشحاله يو، مخكي به ددولت په ګټه هغوي تبليغات كول، پيسي ئي له دولت نه اخيستلي رابطه عالم اسلامي ورته تنخواه وركولي ، اوحزب په خلاف استعماليدل خودمصلح په نامه دتحريك اسلامي دمنسوبينو په نامه، خوواقعيت ئي بل څه و .

ورونو ا موږله هيچاسره دښمني نه لرو، له ټولو سره ددښمني هيرولو ته تياريو، اوداهم وايوچې بالاخره به ټول دي ته مجبوريږي چې معقول حل ته غاړه كيږدي ، خوبهتره داده چې مخكي له دي نه چې نوره وينه توپه شوي وي ، جګړه مزيدطولاني شوي وي، بيادمجبوريت په وخت كي واقعيتونوته غاړه كيږدي ، همدا اوس ، اوس ټول داومني چې په زور حكومت نه كوو دجګړي له لاري په قدرت كي دپاته كيدوكوشش نه كوو، دجګړي له لاري قدرت ته درسيدلو هڅه نه كوو، اسلام ته تسليميږو ، اسلامي نظام غواړو، لمړي دي يوعبوري مؤقت حكومت جوړشي له دي سره سم دي قدرت هغه ته انتقال شي اويه ټول ملك كي دي عام اوسرتاسري اوربندااعلان شي بيا دي انتخابات ترسره شي .

زه يوځل بيا داخبره چې مكرروكړي ددي مجبوله سرته اعلانوم موږ (۲۷) كاله كيږي چې په دي مبارزي كي مصروف يو، لاژلبان وو ، دغه اوږده موده بايه زندانونوكي وو اوهرشپه دي ته منتظرچي سابله ورځ به موداعدام فيصله كيږي بايت ترتعقيب لاندي په كابل كي موږوند كړي چې داعدام فيصله موهم صادره شوي اويه ټول ملك كي هم زموږ دنيولوله پاره زموږ عكسونه خواره وو په داخل كي لګياؤ يابيايه سنګرونوكي يابيايه هجرت كي (۲۷) كاله موږ دغسي تيركړي خويه دغو ۲۷ كلونوكي څوك هم ونشو توانيدلي چې دمسكوپه زور يادبل بهرني طاقت په زور په كابل كي له ؤاؤ اواطمينان سره حكومت وكولي شي له دي نه بعدبه ئي هم نشي كولي، كه په سنګركي ،كه په زندان كي كه په هجرت كي غرونوكي اوصبروياداګولو.كي پري به نږدوچي داسلامي حكومت نه پرته دي بل حكومت په كابل كي جوړشي. داكه هرڅوك وي اوترهرنامه لاندي يې جوړوي ټول دي په همدي پوه شي ، ټولو قوتونوته چې اوس دجنګ په حالت كي دي زموږ خبره همداده . موږتفاهم ته هره شيبه په هرځاي كي چمتو يو، له هرطرف سره، چاچي زموږ پلارهم وژلي چې توبه وباسي خداي اودين ته رجوع وكړي موږ ورته عفو كوو، كه له موږسره جنګيدلي وي په موږئي جفا اوظلم كړي . دپرديو په اشاره زموږ پرخلاف جنګيدلي موږدهغه هيرولو اوهغوي ته دوروري لاس وركولو ته تياريو مشروط په دي چې هغه نور زموږ په ملت ظلم ونكړي اودجنګونودادامي باعث نشي بايد دامظلوم ملت نوردظلم ته وژغورلي شي له دي دربه دري، آواره ګي ، هجرت اودمزيدځوريني ترڅيدونه دامظلوم ملت وژغورل شي اوپريښودل شي چې خپل سرنوشت په خپله وټاكي .

موږ به ددي مظلوم ملت ترڅنګ دتل له پاره ولاړيو موږيه همېشه دمظلوم ملګرتياكوو اودظالم پر خلاف به يو. دكبر جن په خلاف به جنګيږو اودمظلوم ملګري يو، موږ به خپل مظلوم ملت هيڅكله هم په هيڅ مرحله كي يواځي پريښږدو، ددوي دحقوقو نه ددفاع په خاطر به ډيرلمړي خطاولمړي سنګركي يو، له قوم ته هم زماتڼاداده چې ورونو راځي نوربي تفاوتي پريږدو لږهمت وكړو، ملاوتړو، غيرت وكړو، موږ روس ته ماتي وركړي . ملت دي ملاوتړي غيرت دي وكړي، دغه بي غيرتان،دپرديومزدوران چې دپرديوله پاره دخپل قوم اوملت پرخلاف جنګيږي دوي ته دي سم درس وركړي لكه روسانوته ئي چې وركړ داكولي شي ملت كي داتوان شته ، ملت ته زماخبره همداده چې راځي همت وكړو اودغه دپرديونوكران نوردخپل كبر اوغروره راكوزكړو، ملك كي سوله اوامن راولو اواسلامي حكومت قائم كړو .

« اقول قولي هذا استغفرالله لي ولكم والسلام عليكم ورحمة الله وبركاته »

(له كست نه پلي كوونكي : عبدالهادي نيازي)

##

ارزيابى سياست معقول حكام پاكستان درقبال سفارت كشورشان

تاثير

هفته گذشته جنگ درافغانستان وضعيت جدى ترى رابخود گرفت وطالبان بصورت شگرف واعجازانگيزى درحاليكه دربرابر هجوم قواى ادارهٔ كابل به شكست مواجه گرديده ،حدود ۱۲۰ كيلومتر عقب رفته بودند به پيروزى هاى چشمگيرى نايل آمدند ومناطق وسيعى راكه شامل پنج ولايت ميگردد ،ازتصرف ادارهٔ كابل آزاد ساختند.

هرچند طالبان اين پيروزى ها را نتيجهٔ تلاشها وقربانى هاى سپاهيان خود دانستند ولى نميتوان ازشركت همهٔ مردم ناراضى از ظلم واجحاف ادارهٔ كابل ومعاونت نيروهاى شوراى عالى هماهنگى كه درشكست ادارهٔ كابل درحوزهٔ جنوب غرب مؤثربوده اند چشم پوشى كرد.

چنانچه ،قبل از آنكه طالبان به مواضع نيروهاى ادارهٔ كابل حمله ورشوند و از ولسوالى گرشك كه آخرين پايگاه شان درولايت هلمند خوانده ميشد آغاز به پيكار نمايند طيارات شوراى عالى هماهنگى ميدانهاى هوايى شيندند ، هرات ويكرام رابمباردمان نمودند وقوت هاى هوايى ادارهٔ كابل را كاملاً فلج نموده وازكار بازداشتند . همان بود كه قواى زمينى ادارهٔ مذكور روحيهٔ خودرا ازدست داده در برابرطالبان سرتسليم فرود آوردند وتمام متصرفات خودرابه شمول ميدان هوايى شيندند كه از مهمترين پايگاه هاى شان شناخته ميشد ازدست دادند واسماعيل خان قوماندان ووالى هرات با هزار تن از هواخواهانش متوارى شده راهى كشوراسلامى ايران شدند.

پس ازآنكه حوزهٔ جنوب غرب از سلطهٔ ادارهٔ كابل آزاد شد وازوجود جنگ آوران آن اداره پاكسازى گرديد . ادارهٔ مذكور بجاى اعتراف به شكست خود دربرابر ارادهٔ پولادين مردم وترك تاج وتخت ، بخاطر تقويهٔ مورال قوتهاى خود دركابل ، پاكستان رامتهم به مداخله در امور داخلى افغانستان وگسيل نيروى نظامى به قندهار نمود. وبعداً با شيوه ناجوانمردانه سفارت پاكستان راتخريب وماموريتش را مورد ضرب وشتم قرارداده ولكهٔ ننگى بردامن ديپلوماسى افغانستان گذاشت .

واقعاً ، حمله به سفارت پاكستان ولت وكوب كارمندانش خيلى ها ناجوانمردانه ودور از مروت ميباشد. ولى جواب زمامداران پاكستان در زمينه قابل تمجيد ومستحق تكريم است . چنانچه صدراعظم پاكستان وهم چنان وزير خارجهٔ آن ناجوانى هاى ادارهٔ كابل را دست كم گرفته مربوط به خود آن اداره دانستند ومردم افغانستان را از آن مبرادانستند.

درحاليكه به تعداد دوملیون افغان درخاك پاكستان به سرمى برد ازاشتعال ملت پاكستان جلوگيرى بعمل آوردند . حال لازم است كه ادارهٔ كابل ازدولت پاكستان در برابر آنچه انجام داده است ،معذرت جدى بخواهد وكسا نيكه مرتكب تجاوز برحريم سفارت شده وبه همه موازين ومعيار هاى بين المللى درامورديپلوماسى پشت پازده اند هرچه زود تر گرفتار وبه دادگاه بسپارند تا در حق آنها مطابق قوانين بين الدول وقانون حقوقى اسلام حكم صورت گيرد ،تابدينصورت دوستى دو ملت مسلمان افغانستان و پاكستان بقايافته واين عمل ناشيانه نطفه يى براى توليد دشمنى درميان آنها نگردد.

باتاسف عواملى از جمله جنگ و نابسامانى وعدم حاكميت مركزى باعث گرديد تادر طول سه سال حكومت به اصطلاح مجاهدين ، دومرتبه سفارت پاكستان تخريب گردد.

به نظر تحليلگران سياسى دراين شكى نيست كه دست هاى پيدا وپنهان براى برهم زدن حسن روابط پاكستان وافغانستان فعاليت دارند كه از جمله ميتوان روسيه وهند را به قسم مثلى ديد ولى تا حدى عدم جديت دولتمردان پاكستان درختم غائلهٔ افغانستان نيز مؤثر است ، هرگاه، زمامداران پاكستان با علاقمندى وجديت ميخواستند جنگ ونزاع درافغانستان پايان يابد درهماتروز هاييكه زمام امور بدستشان بود ودرساختار دولت وحكومت افغانها راياري ميدادند توجه جدى خود رابه فرجام ميدوختند ودرحل منازعات بصورت عميق و ريشه يى كوشش بعمل ميآوردند ، با تاسف اينكه سياستگذاران پاكستان درامور افغانستان خيلى ها قضيهٔ جدال بر سرقدرت در افغانستان راسطحى نگريستند وبراى حل منازعات افغانها التفات جدى نه نمودند تا قضيه بدينمنوال درآمد . حال هم وقت است كه برادران پاكستانى مان با شركت دردرد والم افغانها راه هاى عملى رادر قبال قضيهٔ بغرنج افغانستان بسنجند وهمسايهٔ خويش را از نكبت جنگ وتباهى برهانند تاباشد دوستى پاكستان وافغانستان دوام وقوام يابد ودراين راه به خاطر انتقام از ادارهٔ كابل طريقه يى رانپويند كه وضع رابيش از پيش بغرنج ترساخته وخداى ناخواسته اسباب اذيت بيشترافغانهاى مظلوم فراهم آيد وهمه اهداف نيك خواهانه دوملت افغانستان وپاكستان به ثمر نه نبشند .

گل مراد توآنگه نقاب بگشايد
كه خدمتش چونسيم سحر توانى كرد

####

سكوت حزب اسلامي وشعله هاي جنگ

سيد جلال الدين

پس از سكوت وآرامش نسبى چندين ماهه ، شعله هاى خانمانسوز جنگ باردیگر در كشور زبانه كشيد ومناطق زيادى را درآتش ويرانگر خويش سوخت وتلفات بيشتر جانى ومالى به طرف هاى درگير درقبال داشت .

درگذشته هاى نه چندان دور عده راعقيده برين بود كه يگانه عامل درگيرى ها وزدوخورد ها حزب اسلاميست وآن را مسبب اصلى جنگ افروزى ها نا امنى ها وتبه كارى ها قلمداد مى نمودند .

باوجود عقب نشينى حزب ازمقر فرماندهى قبلى از چهارآسياب وانتقال آن به سروبى آتش جنگها بازهم فرونه نشست وجنگها درنقاط مختلف كشور با حدت وشدت بيشتر شعله ورگشت وويرانى ها وخرابكارى هاى بيشترى نسبت به گذشته به ارمغان آورد.

حزب اسلامى بنابر داشتن مشى صلحجويانه وخيرانديشانه خويش وبه پاس احترام از افكار وانديشه هاى عامه ونفرتيكه آنها ازجنگ داشتند نقاطى را كه مدت سه سال واندى ازآن پاسدارى وحراست نموده بود ، تخليه وموقتاً پايگاه خويش رابه سروبى انتقال داد تاحدس وگمان ها نسبت به جنگ افروزى ها ازبين رفته ونشان دهد كه حزب اسلامى عامل جنگها وجنگ افروزى ها نيست بلكه ديگران اند كه جنگها ونا امنى ها را دركشور دامن زده ومسبب اصلى وقايع كشور درچند سال اخير ميباشند.

باسرازير شدن گروه طالبان تادروازه هاى كابل حزب اسلامى نخواست درورياروبى باطالبان قرار گرفته ويا ايشان درگير شود. زيرا درصورت درگيرى باطالبان بازهم حرف ديگرى متوجه ميشد كه گويا حزب اسلامى باهمه درگير جنگ بوده وحتى باعلما وروحانيون كه قرن ها مورد احترام ملت مسلمان افغانستان بوده اند نيزدرمسير ودرنقطه مخالف قرار گرفته اند .

حزب اسلامى نخواست در رويارويى ومخالفت با گروه مذكور قرار گرفته بنا؛ دست به چنين عمل عاقبت انديشانه وخيرانديشانه زدوازسنگر هاى مستحكم خويش به پلچرخى عقب گرد قصيرالمدت دست بازيد وبدين وسيله طالبان در رويارويى بانظاميان اداره كابل قرار گرفتند.

جنگ ميان اداره كابل وگروه مذكور به شدت آغاز يافت وتلفات جانى ومالى برهمديگر وارد آوردند كه درنتيجه گروه مذكور دربرابر نظاميان اداره كابل تاب مقاومت نياورده وبه شكست مواجه شدند.

درنتيجه اين برخورد طالبان مناطقى را كه حزب اسلامى ازچندين سال به اينطرف تحت سيطره وكنترول داشت نتوانست حتى مدت يكهفته ازآن پاسدارى نمايد وشكست هاى پيهمى برايشان وارد آمد كه به مشكل ميتران راجع به تفوق نظامى آن ها درآينده اميدوار ماند.

نكته اينكه بيشتر مارا متوجه ميسازد اينست كه درصورت سكوت وآرامش حزب اسلامى بازهم جنگها دركشور شعله ور بوده وحزب موصوف تنها عامل درگيرى ها، ويرانگرى ها وغارتگرى هاى اخير دركشور نيست بلكه گروه ها هركدام بالنوبه درتشديدوتداوم جنگها سهم فعال گرفته اند .

فتح غند جاجى توسط اهالى منطقه كه يكى از غند هاى مستحكم سرحدى اداره كابل به شمار ميرفت . هواخواهان اداره كابل پس ازفتح اين سنگر توسط اهالى آن منطقه سخت سراسيمه ودست پاچه شدند وبخاطر تلافى وجبران خساره سخت كوشيدند تاانتقام آن را ازنقطه ديگرى بكشند .

حمله وسيع وانتقام جويانه نظاميگران كابل بالاى سنگرهاوپسته هاى حزب اسلامى درسروبى يكى ازهمان تلاش هايست كه باردیگرخواستند پاى حزب اسلامى را كه از مدت ها به اينطرف دور از هياهوى جنگها و زدوخوردها قرار داشت به ميدان جنگ بكشانند.

حملهٔ اداره كابل بالاى غند ها وسنگرهاى مستحكم حزب اسلامى افغانستان وشكست هاى پيهمى نظاميان كابل يكباردیگر ثابت ساخت كه سكوت اين حزب به معنى شكست نظامى وى نبوده بلكه نيرومندى وتوانمندى اورا درصحنه نظامى كشور نيز برملاميسازد.

دفاع ازسنگرها وپادگان هاى نظامى ومقاومت دليرانه سنگرداران اين حزب حضور نظامى اين حزب را درحيات سياسى كشور برملاساخته وبرجهانيان ثابت ساخت كه بدون موجوديت آن نمى شود امن وآرامش دركشور برقرار شده وحضور آن راالبتوان ناديده انگاشت.

علاوه برآن ادامه جنگها در غرب وجنوب غرب ،شرق وشمال كشور مؤيد اين مدعاست كه هيچ تنظيمى به تنهايى نميتواند حاكميت امور كشور را دردست گرفته ويا يكه تازى ها سرنوشت ملت داغديده را تعين نمايد.

صلح وآرامش ، امن و آشتى زمانى ميتواند دركشور به ميان آيد كه درهمه ابعاد نظامى وسياسى ،نيروهاى جهادى كشور سهم فعال وارزنده داشته وجلو جنگ وجنگ افروزى را بيگرند . سهمگيرى فعال نيروهاى جهادى وتنظيم هاى اسلامى در اداره كشور ميتواند گليم سياه جنگ وبدبختى راازكشور برچيده وآرامش وصلح را دركشور برقرار سازد، درغير آن صورت شعله هاى خانمانسوز جنگ بزودى خاموش نگرديده وكاروان غم واندوه جنگ وبرادركشى ازين كشور رخت نخواهدبست به اميد برچيدن بساط جنگ ،ظلم ، ويرانگرى وايجاد زمينه هاى صلح واخوت درفضاى غم بار كشور.

دافغانيوديبي درالويدو په باب په

ته وويل چې دافغانيو ديبي درالويدووجه په افغانستان كي روان جنګونه اودرباني داداري په واك كي پاتي كيدل دي .

همداراز صراف جنت ګل وويل : دافغانيو ديبي رالويدل ډير علتونه لري خوزما په ځانګړي نظردافغانيو ديبي ارزښته كيدو وجه داده څومره چې دكابل اداره كمزوري كيږي ، په همغه اندازه افغاني خپل ارزښت ترلاسه كوي .

صراف فضل محمد دشهادت خبريال ته دافغانيو دقيمت درالويدوعلت داسي څرګندكړدافغانيو دقيمت درالويدو علت دافغانيو زيات چاپ كيدل اودهغوي تجارت دي تاسوويني چې اوس په افغانيو تجارت روان دي دكابل ائتلافي اداره په داګه تجاراتوته پلنه وركوي چې داسي تجارت وكړي .

ده وويل چې افغاني اوس دومره زياتي شوي چې جوالبان ئي هم نشي وړاي ده وويل پرون يولك افغاني په (۷۵۰) كلدارو اونن يولك افغاني په (۷۰۰) كلداري بدليږي .

له بلي خوا بيا عبدالواحد پاكستاني صراف وويل : افغاني چې خپل قيمت له لاسه وركوي ددي يوازيني علت زما په نظر جنګ ، دول دول آوازي اوپروپګنډو دي كله يوه آوازه شي كله يله كله يوريوټ راشي كله بل . ده وويل كله چې طالبانو امركړي چې پنځه زريز اولس زريز نوټونه دي څوك نه اخلي دهغي راهيسي دافغانيو په قيمت كي زيات بدلون راغلي څكه موږ اوس پنځه زريز اولس زريز نوټونه په ۷۲ اخلو اويه ۷۲۵ ئي تبادله

شهادت

بيانگرعقايد وارمانهاى حزب اسلامى افغانستان

صاحب امتياز: حزب اسلامى افغانستان

مؤسس : انجنيرحكمتيار

ناشر : رياست ارشادوفرهنگ

تحت نظر هيئت تحرير

تيليفون : ۲۵۶۳۷۸۹

آدرس پستى : ۱۰۳۶ يونيورستى تاون -پشاور

د «حكمتيار» وينا ...!

دحزب اسلامي امير ورور « حكمتيار» ترډيري مودي وروسته دتيري جمعي په ورځ په نصرت مينه كي ويناوكړه .

په دي ويناكي، هغه دجګړي په پس منظراو عواملو، دجګړي دادامي په سببونو، دهغي دپاي نه رسيدو، اوږ چارو، د وروستيوانكشافاتواودهغويه باب دحزب اسلامي په دريځ ښه رڼاواچوله .

داچي دنجيب دړژيم ترنسكوريدو وروسته جګړه دبهرنيو طاقتونو دسازش اواهدافو دپالني په وجه وشوه ،اوس هيڅوك پكي شك نه كوي ، نن ټول هغه كسان چې ورته تكنوكراتان ، ديموكراسي پلوه اوغرب ته نږدي بلل كيږي ، هم داخبره كوي چې دنجيب درژيم دسقوط په وخت كي دافغانستان دسولي عمليه سبوتاژشوه، اوديوه ناوړه سازش په ترڅ كي له نجيب نه دغيرمتنازع افرادو شوري ته دقدرت دانتقال ابتكارناكام كړاي شو .

په تيرونږدي دري نيموكلونوكي چې زموږ په وطن كي څومره ويني توئي شوي اوڅومره فاجعي وشوي ددي ټولو مسئوليت دهماغو سازشكارو افرادو اوقوتونو په غاړه دي چې په دي توطيه كي ولوبيدل .

بايد زموږ قوم اوبااحساسه عناصرپه دي برخه كي مشخص تحليل اوصريح قضاوت وكړي ، كه دملت دسرنوشت دغسي يوه لويه موضوع ګونګه پاتي كيږي او دداسي ستري فاجعي عوامل نه پيژندل كيږي، دابه دولس اوهيواد حال دحادثواوخيانتونو ځپونه بي دفاع اوبي پوښتني پريږدي .بيا به ښه اوبدكردار، منفي اومثبت نقش اومزدور اووطندوست كركترله يوبل سره ګډشي، اوميړي اوليوان به سره بوځاي ګرځي .

متاسفانه زموږ په ټولنه كي دي ته هيڅ توجه نه كيږي چې حوادث تحليل شي، كردارونه په ګوته شي اوبيا دهغويه وړاندي ولس يوي مناسبي موضع ته راوبلل شي .

حزب اسلامي غوښتل چې له نجيب نه اقتدار يوي داسي اداري ته انتقال شي چې هغه دټولو په خوښه وي، اودبوچاپه اشاره دبل چاپرخلاف استعمال نشي، حزب اسلامي داكاريه داسي وخت كي كاوه ، چې پوځي طاقت ئي اصلاً له نورو تنظيمونوسره مقايسه كيده، نه ، په ټول هيوادكي ئي فعال اوسرښندوي قوتونه درلودل اودجګړي ښه انګيزه اوانرژي ورسره وه .

په دي علاوه داكترنجيب ورته د ۸۰ فيصده سهم وركولو پيشنهاد كاوه، خودحزب قيادت دجهاد دعظمت ددرناوي لپاره اويه دي خاطر چې دټولو په خوښه اداره جوړه شي، سوله راشي اونوردافغان له لاسه دافغان دويني توئيدو تراژيدي تكرارنشي، له خپلو امتيازاتو اوتفوق ترلاسه كولو تير شو .

بياچي كله ائتلاف رامنځ ته شو او دپرديو په لاسونو داجوړتشكل دملت دپوي لوئي برخي پرخلاف اويوه ستراړمان په شدفعال شو، دټولو داخلي فشارونو اوبين المللي خنډونوپه منځ كي همدا حزب اسلامي وه چې ديوه لوي غريه څير ودريد، مقاومت ئي وكړ.

دائتلاف هويت ئي پاش كړ، دولس ديوي لوئي برخي دتذليل عمليه ئي نامراده كړه ، هيوادئي له ويش نه بچ كړ، دنفرتونو داورلمبي ئي راټيټي كړي، ائتلاف ئي مات كړ اوله يوي خطرناكي مقابلي او ويروونكي چلينج نه په ښه تقش كي راووت ، دادحزب اسلامي يوه داسي كارنامه ده چې نن دحزب اسلامي زيات مخالفين هم پري اقراركوي .

اوس دپيروموثرو هغو اشخاصو اوحلقو متفقانه نظرهم چې دحزب له طرزتفكر او سياسي سليقي سره په هيڅ توګه جوړنه دي، دادي چې كه حزب اسلامي نه واي دتيرو دريو كلوله حوادثونه به اوضاع داسي نه راوتله چې بيادي چاديوه هغه افغانستان ددرلودو ارزوكړي واي چې هلته دپوسالم هيواد، دټولو په لاس كي اودټولو لپاره وي ».

موږباورلرو چې زموږبابصيرته قوم به هيڅكله دحزب اسلامي داجوړوونكي نقش هيرنكړي، همداوجه ده چې نن دټولو تبليغاتو باوجود حزب په ملت كي ديوه بيدار، معقول، اوخپلواك قوت په توګه مطرح دي، دولس زياتي هيلي وريوري تړلي دي، ملت په دي انتظار دي چې حزب به خپل لوي تقش ترسره كوي، هغه نقش چې هدف به ئي دبحران په حل كي مرسته وي .

حزب اسلامي په دي هيڅ باورنه لري چې له چاسره ، تاكتيكي اومقطعي ائتلاف وكړي، ځكه حزب نه دجګړي لپاره جګړه كوي ، اونه دكوم مشخص امتيازلپاره معاملوته زړه ښه كوي، هغه دخپلوطرحو اودريځونو په غوره كولو كي دبحران كلي ، اساسي ، جامع اوپايدارحل معياريولي اويه دي هڅه كي دي چې څومره ژر كيږي ، څومره اسانه اويه اطمينان كيږي بايد بحران پاي ته ورسيږي او دجګړي دسكروټو په ځاي په هيوادكي دسولي كوتري والوزي .

حزب اسلامي يو بالتجربه حزب دي، هغه په تقريباً دووتيرو لسيزوكي دملي سياست مهمه برخه وه . دوخت ساړه اوتاوده ئي ډير ليدلي، دموسمونو دبدلون ابتلا وي ئي تيري كړي دي او دابتلا اوعروج منزلونه ئي وهلي دي، حزب درك كوي چې څومره جګړه آوږدېږي ، همدومره بحران پېچلی كيږي اوټول تاوان كوي ، اوچي څومره وخت ضايع كيږي همدومره دهدف منزل كركيچن كيږي .

حزب درك كوي چې نه چاته وخت دريږي اونه څوك په يواځي ځان دولس ژغورندوي ثابتيداي شي . دهمدي لپاره ده چې راځي دولس دژغورني لپاره سره يوبل ته لاسونه وركړو. وخت ضايع نكړو، فرصتونه ونه بايلو اوبحران پېچلی نه كړو.

داخبري نه دكوم امتياز دترلاسه كولو لپاره دهيڅ دهڅي په مفهوم دي اونه دحزب دكمزوري په معني ، بلكي دايو دردمندانه غږدي ، دازموږ دمظلوم ملت دسرنوشت دتقاضا اوازدي ، دا دزماني دمنطق اوتعقل دحكم انعكاس دي، چې بايد مسئولانه اوعاقلانه ورباندي غورروشي .

حال دویلو لایق ندی امانت

میوند

بي بي سي دطالبانوله خوادهرات دنیولو په خبرکي وویل : جنرال اسماعیل خان له خپلو زروتنو ملګروسره وروسته له هغې چي دایران په سرحدکي یې څوساعته انتظارویوست ایراني پوځیانوته دخپلوسلوله تسلیمولو وروسته ایران ته دننوتلو اجازه ورکړي شوه ، په خبرکي داهم وویل شول چي اسماعیل خان یوه نامعلوم ځاي ته بیول شوي اوملګري یې له سرحدسره نژدي په یوه کمپ کي ځاي پرځاي شویدي .

پدي خبره څوك خوشاله اوڅوك په خوابدي شوي وي په خوابدو او خوشاله دلوکي دکابل حکومت اودطالبانوپلویان نه یادوم خوداخوشالي اوخواشیني به هم بیلابیل جهتونه لري. له تاسي څه پرده زه خوبي دیر خواشیني کړم . هسي نه چي طالبان وروته اودهغوي پلویان راته وختیمیږي خوزماعرض دادي چي زما دخواشیني جهت بل دي چي کیدي شي ددیرو لړو وروته یام شوي وي اوهغه دیوه پردي هیوادپوځیانوته دیوه افغاني جنرال تسلیمیدل اودوسلي سپارل دي .

ماته په بنګلدیش کي دهندي پوځ په مقابل کښي دجنرال نیازي دتسلیمیدو واقعه یاده ده چي دهغې په هکله مفصل معلومات نلرم خوهغه په بنګلدیش کي سلامي شوي و، اوکوم بل هیوادته یې دتیښتي اقدام نه وکړي په بنګلدیش کي که څه هم دهندي پوځیانومستقیمه مداخله شامله وه خو واقعیت دادي چي دهغه هیواد دقیام محرکات داخلي ؤ . څوکاله وړاندي دیوه بل جنرال اوډاکترنجیب ددفاع وزیر دګرجنرال شهنواز تني دیوي ناکامي کودتا په ترڅ کي په هلیکوپترکي پاکستان ته راواوښت داهم دیوه جنرال تیښته اوبل هیواد ته یوډول سلامي کیدل دي خوجنرال تني دحواله لاري پاکستان ته واوښت نه چاپه سرحدکي تم کړاوته یې هم ملګري په کوم سرحدي کمپ کي ایسار کړي شول. یوجزوي توپیرداهم کیدي شي چي جنرال تني خپله تسلیمي دمقاومت په لیکوکي دګډون په اعلان اوډنجیب رژیم پرخلاف دقیام په جواز توجیه کولي شي، خوداپیوستون له پاکستان ته دهیواد په دننه کي چي دمقاومت اصلي سنګرونه وو هم ممکن ؤ .

جنرال تني که دخپلي کودتاله لاري دډاکترنجیب تخته نسکوره نه کړاي شوه نوجنرال مسعود خوبي واکمني ته ورساوه ، احمدشاه مسعود پخپله یوه مرکه کي پدي اعتراف کړي چي دجنرال تني له کودتا وروسته موږته ددي موقع اوزمینه برابره شوه چي دخپلوپلانونو اوطرحو دعملي کولو لپاره لازم فرصت ترلاسه کړو.

زه پدي پوه یم چي په جنرال تني هغه ناکامه کودتا تحمیل شوي وه اوداچي څنګه تحمیل شوه داهم هغه اسراردي چي تراوسه هم په پوځو سینوکي پټ دي . څرنګه چي کودتاپه جنرال تني تحمیل شوه همداسي یې مسؤلیت هم په بل چاتحمیل کړي شو .

ډاکترنجیب پاکستان ته دجنرال تني له اوښتووروسته وویل تني به اوس خپلوپاکستاني باداراتوته دهیواد نظامي اسرار دخپلي غلامي اوخوشخدمتي په توګه وړاندي کړي وي . نظامي اسرار دیوه مملکت لپاره دبقا اوزوال حیثیت لري پوځي افسرانوته له همدي امله سوګند اولوره ورکول کیږي .

بیرسرو مجاهدینوته هم ډیر پوځي افسران سلامي شوي خواسلامي شرم اوننګ نده ګڼل شوي ، که اسماعیل خان هم طالبانوته وسله ایښي واي دهیڅ شرم خبره نه وه .

جنګ هیشه دفتحي اوبرلاسي بنه نلري په جنګ کي شکست شرم ندي خو پردیو ته تسلیمیدل ډیر ستراو تاریخي شرم دي .

دجنرال اسماعیل خان شکست دومره دشرم خبره نه وه لکه دبل هیواد دیوه پوځي قوماندان په وړاندي سلامي کیدل اودوسلي ایښودل .

په خوست کي دیوه دګرجنرال په مشري اته تنه جنرالان مجاهدینوته سلامي شول له دغو جنرالانوته یوهم ددفاع وزارت مرستیال ؤ هغه داحمدشاه مسعود په رژیم کي بیرته ددفاع وزیر معاون وټاکل شو، هیچاپیغور ورنکړ، هیچاتحقیرنکړل اوهیچامخ تري ونه ګرځاوه ، ځکه هغوي دخپلو هیوادوالوپه وړاندي وسله ایښي وه ځکه خوږوندي هم پاتي شول عزت یې هم وشو او له پیغورونوهم خلاص شول برات یې هم ترلاسه کړاوسرلوړي هم شول .

اسماعیل خان سترجنرال ؤ له دغوتولو جنرالانویي رتبه لوړه اوستره وه ده که دطالبانو په وړاندي وسله ایښي واي همدغسي به عزیز، سرلوړي اوله پیغوره خلاص پاتي شوي ؤ خوچي ده دخپل وطنوال پرځاي پردي ته دتسلیمیدو سلامي ووهله اووسله یې ورته کیښوده دعمرونو له پیغوراوسرټیټي نه به څنګه ځان وساتلي شي .

دیرداسي خلك شته چي وصیت کوي چي په مرګ یې جنازه په خپل وطن کي خاوروته وسپارل شي، هغوي که په ژوند پخپل وطن کي نشي اوسیدلي نوله مرګه وروسته خپل دا ارمان پوره کول غواړي ، امان الله خان مرحوم په ژوند اوپادشاهي کي له خپل هیواد نه شړل ومثل خو قبریې دخپل وطن خوښ و هغه که په ژوندله خپل وطن نه بیل شو په مرګ له خپلي خاوري سره وصل شو.خوډیر په ژوند وطن ته شاکړي ، پردیوته سلامي شي پردیوته خپله وسله ، خپل ننګ اوعزت وسپاري .

که سترجنرال اسماعیل خان کابل ته تللي واي بیاهم څه بده خبره نه وه دحیراني ځاي هم دادي چي آخر جنرال صاحب کابل ته ولي لارغلطه نکړه ؟

که یوټیټ رتبه افسرداکارکړي واي بیاهم دومره مهمه نه وه خوچي یوجنرال اوبیا سترجنرال داسي ذلت ته غاړه کیږدي په ریښتیا هم چي ددیري خواشیني خبره ده .

دظاهرشاه یوه هوښیاري داوه چي جنرالان یې له اتولسو کسانوزیات نه ؤ اوسترجنرال خوهماغه یوخان محمدخان ؤ چي هغه به هم په هرحکومت کي ددفاع وزیر ؤ .

لدي پیښي دوي ورځي وروسته دجنرال عظیمي په نوم دهرات یوبل تسلیم شوي جنرال دایران له مشهدنه دیوه عجیبه جسارت څرګندونه وکړه دي چي خپله دایران مشهد ته تښتیدلي اوخپله وسله یې دایراني پوځي افسر په وړاندي ایښي وه په مشهدکي هم دهرات دبیا نیولو خوبونه لیدل اوله مشهدنه یې په هرات وژي کولي . پدي پوري ماته یوه کیسه یاده شوه ، یاغلي ممرزي چي په جرمني کي دسنګرپه نوم اخبار خپورکړ نومرحوم تراب پدي اړه یوشعرکي ویلي ؤ : دممرزي هغه سنګرته سلام

چي له المان نه په میدان وژي کا

تښتیدلي اوماتي خوړلي جنرال عظیمي هم چي دوي ورځي پرله پسي ایراني شپکواوچینلوته په شاتپولي،وایي چي داسماعیل خان اشتباهات باهم پټ تواففقات ددي باعث شول چي هرات سقوط وکړي خو قوماندانانواسماعیل خان معزول اوعلاو الدین یې خپل مشروټاکه اودهرات دنیولو لپاره یې هڅي پیل کړي اوزیات شمیریې داخل ته ننوتلي دي . له ایران نه داډول خبري اودنوي حملي اخطار ګني پردي لاسوهنه نده اوبیا دایران دوه مخي ته هم ګوره چي له یوي خوا سرحد تري اواخطارورکوي چي دمخالفینو دتعقیب په پلمه څوك دایران سرحدونوته نژدي نشي اوله بلي خوا دهرات تښتیدلي جنرالان په پښودروي او بیرته یې افغانستان ته په لیږلو هڅوي .

دجنرال عظیمي یوه سپین سترګي داهم ده چي په واګه دژبني تمایلاتو اونژادي تعصباتوندوره غږوي اوطالبان څلورتنه کندهاریان ګني چي هراتیان په لدي امله چي ژبني اونژادي تړاونه ورسره لري هغوي ونه مني، که داسي وي اوڅلورتنه کندهاریان څوك نشي زغملي نوبیا په ټول ملت دربایي اومسعود

درغملواوتیلو جوارڅه شي دي ! خوفکرکوم داحربي توري داسي زنګونو وهلي چي هیڅوك به تري خبرونه ګوري، اوپردیوته تسلیم شوي جنرالان به ونه توانیږي چي بیا یې څوك خبروته غوږکیږدي په انسانانوکي دافرق ضرورشته چي څوك ژوند اومرګ دواړه پخپل وطن کي غواړي، څوك که ژوند نشي پکي تیرولي اوخوك یې نه پرېږدي هغه بیا قبرپخپل وطن غواړي .

دډاکتر صالح محمد زیري دمرحومي میرمني او وروپیچوجذبوته سلام کوم چي خپل وطن یسي دوحشت په لمباو تویانونوکي هسم پرینښوداویه همدي سپیڅلي جذبه یې پخپل وطن سرکیښود

زه نپوهیږم چي جنرال اسماعیل خان به دایران په سرحد کي څومره تریخ انتظار تیر کړي وي چي یوه پردي هیواد ته یې دننوتلو اجازه ترلاسه کړي وي هغه هم دوسلي دایښودلو نه وروسته . زه فکر کوم چي طالبانو به اسماعیل خان دومره نه ؤ تحقیرکړي لکه په سرحدکي چي ایراني واکمنو دغه جنرال تحقیرکړ.

پوځ داصولو اوانضباط نوم دي مایه یودووجهي فلمونو کښي دقوماندانانو دتسلیمي صحني لیدلي چي هغوي مقابل جنرال ته سلامي کیږي اوله خپلي ملاته کمربنداو تومانچه راخلاصوي اویه دواړو لاسونوپي هغه ته تقدیموي . جنرال اسماعیل خان به ضروروداکارکړي وي ځکه دده مقابل کي به یوایراني پوځي افسر

